# نصیبه څه دې وکړه!

ياران شول واړه در په در، نصیبه څه دې وکړه!
ټوټې، ټوټې شو هر ځيګر، نصیبه څه دې وکړه!

نه ځي رسا ناوک د آه مې د غليم په سينه
رنګ شول په وينو سم او غر، نصیبه څه دې وکړه!

شملې کړې شوې وران ويجاړ شول د پګړو ولونه
پاتې وستل کې نه شو سر، نصیبه څه دې وکړه!

منګې کړل مات خپل او پردو د تمدن په نامه
خالي له پېغلو شو ګودر، نصیبه څه دې وکړه!

سهار شو تېر په خړو ورېځو کې د غرونو په سر
بې وخته راغی مازديګر، نصیبه څه دې وکړه!

رايادوم چې سره په وينو مې ګلګون ډاګونه
جهان بدل شي په محشر، نصیبه څه دې وکړه!

قارغان کړي لوبې د ميرويس او احمد شاه په وطن
نه ايوب خان شته نه اکبر، نصیبه څه دې وکړه!

نه شته ميوند کې د ملالې د ټپو انګازې
سوزي پښتون په لر او بر، نصیبه څه دې وکړه!

څه د ګرېوان شوې څه د خاورو د متين اوښکې
لکه تالا چې شي لښکر، نصیبه څه دې وکړه!
---------------------- مى – ۳۱ – ۲۰۰۶
منتيکا – کليفورنيا